# د جنسي ناوړه ګټې اخیستنې او جنسي تیرې مخنیوی

برخه 2: د جنسي ناوړه ګټې اخیستنې او جنسي تیرې څخه مخنیوی

# برخې ته لنډه کتنه

**ناسته 1:** د یوه بې غرضه شخص مثبته مداخله

**ناسته 2:** خوندي ګمارنه او انتخاب

**ناسته 3:** خوندي پروګرامونه



# پېژندګلوی

مهرباني وکړئ خپل نوم، په سازمان کې ستاسو نقش او
وروستی عکس چې تاسو په خپل تلیفون کې اخیستی، یا
وروستی عکس چې تاسو یې په شریکولو کې راحته
احساس کوئ شریک کړئ.



# د ځان پاملرنې مشوره پیغام

د نن ورځې د حساسې موضوع له کبله، موږ تاسو هڅوو تر هغه حده چې *تاسو د آرامۍ احساس کوئ* برخه واخلئ او د اړتیا په صورت کې د غونډې څخه وقفه واخلئ.  پدې ناستې کې که چیرې داسې موضوع ګانې بیان شي چې تاسو یې په اړه خبرې کول غواړئ، د باوري همکار، ملګري، یا د کورنۍ غړي څخه ملاتړ وغواړئ.

# د محرمیت په پام کې نیول او
# د رپوټ ورکولو مکلفیتونو منل



د ځانګړو قضیو توضیحات مه شریکوئ ځکه امکان لري ښکیل خلک افشا کړي.




د هر هغه څه محرم ساتل چې موږ پدې خونه کې پرې بحث کوو.



د ناوړه چلند د ځانګړو ډولونو رپوټ ورکولو مکلفیتونه.

# د ناستې موخې

د غونډې د موخو جوړولو لپاره لاندې موضوعات په پام کې ونیسئ.

- په توجو سره غوږ نیول
- درناوی
- صداقت
- محرمیت
- پاملرنه

# ناسته 1

ناسته 1 //

# د یوه بې غرضه شخص مثبته مداخله

**لومړی موضوع:**

د یوه بې غرضه شخص اغیز.

# د ناستي د زده کړې موخې

1 د عملي بې غرضه شخص مداخلې له لارې د جنسي ناوړه ګټې اخیستنې او جنسي تیرې د مخنیوي لپاره خوندي او مناسبې ستراتیژۍ رامینځته کړئ.

2 د بې غرضه شخص (هغه شخص چې ناوړه چلند مشاهده کوې) اغیزې تحلیل کړئ، دا څه دي، او ولې پیښیږي.

3 دا تشریح کړئ چې کلتوري نورمونه د نامناسب چلند په وړاندې زموږ په غبرګون څنګه اغیزه درلودلی شي.

4 هغه چلندونه په ګوته کړئ چې د مسلکي څخه تر نامناسب او بیا په تیرې بدلیږي.

**ناسته 1** // موضوع 1

# د بې غرضه شخص اغېز




داسې **یوه رواني-ټولنېزه پدیده** ده چې خلک پداسې حال کې چې یو شخص د خطر سره مخ وي مرسته نه کوي ځکه نور خلک هلته شتون لري.

# د بې غرضه شخص اغېز

1 نو تاسو ولې فکر کوئ کله چې ډېر خلک شتون ولري، بیا لږ خلک مرستې ته لیواله دي؟

2 په بل عبارت، دا چې ولې د **بې غرضه شخص اغېز** رامنځته کیږي لاملونه یې کوم دي؟

**شخصي فکر:**

هغه وخت را په یاد کړئ چې یو شخص و مرستې ته اړتیا درلوده او تاسو بې غرضه واست یا مو وضعیت مشاهده کوئ.

- آیا تاسو مداخله وکړه؟ ولې یا ولې نه؟
- د قضاوت موضوع نده او صحیح یا غلط ځواب نشته.

# د یوه بې غرضه شخص مثبته مداخله او کلتور

د یوه جنسي ناوړه ګټه اخېستنه او جنسي تیری په موضوع کې هغه کوم **کلتوري موارد** دي چې د بې غرضه شخص پر عمل اغېزه درلودلی شي؟

# د چلند سلسله

## د زده کړې موخې:

هغه چلندونه په ګوته کړئ چې د مسلکي ځخه تر نامناسب او بیا په تیرې بدلیږي.

# د چلند سلسله

- مسلکي، محترم او خوندي
- تونډ، ځورول او/یا یو اړخیزه اړیکي
- جنسي ځوروني/ ځورول
- (جنسي) تاوتریخوالی، تیری یا ناوړه ګټه اخیستنه

1 تاسو چیري خپل بړغ پورته کوئ؟

2 د نورو لپاره تاسو به چیرې مداخله وکړئ؟

# د چلند سلسله پلې کول

**تاسو به پداسې ډول یوه سیناریو کې څه وکړئ؟**
د 1 څخه تر 5 مقیاس پورې؟

**1** یقینا مداخله یې ونه کړه

**5** په یقین سره **مداخله** وکړه

جینیفر ۲۳ کلنه ده او له پوهنتونه فارغه شوې ده. څو میاشتې وړاندې هغې د مدني ټولنې په یوه سیمه ییز سازمان کې د ځوانانو د پراختیا د پروګرام د مسوولې په توګه دنده تر لاسه کړه. څو اونۍ دمخه، هغې د خپل 39 کلن رییس څخه د دفتر د ځینو نورو ملګرو په اړه جنسي نامناسبې خبرې واوریدې.

څو ورځې وروسته جینیفر ولیدل چې د هغې رییس خپل لاس د یو همکار باندې ایښی و او د دفتر څخه د وتلو په وخت کې یې په کوناټې باندې دغه همکاره وټکول. د جینیفر په اند دا یو سپکاوی و.

پرون، جینیفر ولید چې رییس یې د یوې ځوانې نجلۍ سره ډیرې نږدې خبرې کولې چې د دوی د برنامو یوه برخه ده. جینیفر د نجلۍ سره د سترګو تماس ونیوی او پدې پوه شوه چې هغه په وضاحت سره ناراحته احساس کوي.

# د چلند سلسلې لنډیز

1 که څه هم جنسي ناوړه ګټه اخیستنه او جنسي تیری ډیری وختونه د ځواک څخه ناوړه ګټه اخیستنه ده، د فرد په حیث، تاسو هم دا ځواک لرئ ترڅو خپل بړغ پورته کړئ او کله چې یو څوک غلط کار وکړي نو خپل حدود وټاکئ.

2 په یوه سلسله کې د یوه چلند پېژندل د غلطو خبرو او اعمالو په توقف کې لومړی ګام دی مخکې له دې چې وضعیت نور خراب شي.

# د یوه بې غرضه شخص مثبته مداخله

**د زده کړې موخې:**

د نامناسب او احتمالي زیان رسونکي چلند د مخنیوي لپاره د یوه بې طرفه شخص لخوا د مداخلې فعاله تګلارې رامینځته کړئ.

# د يوه بې غرضه شخص مثبته مداخله



دا د يوه وضعيت مخه نيولو هغه پروسه ده په کوم کې چې يو څوک د غير مدني يا ناوړه چلند سره مخ وي او د مثبتو پايلو لپاره ګامونه پورته کوي.

ډيرى لارې شتون لري چې يو بې غرضه شخص (يا مشاهده کونکى) په مستقيم او غير مستقيم ډول مداخله کولى شي.

# د یوه بې غرضه شخص مثبته مداخله: د عمل لپاره 5 ګامونه

1. د اعمالو په سلسله کې یوه ځانګړی چلند ته توجو وکړئ.
2. پدې اړه فکر وکړئ چې آیا وضعیت ددې ایجاب کوي چې مداخله وشي:
   - ایا یاد چلند د مقابل شخص د عاطفي یا فزیکي زیان په خطر کې اچوي؟
   - ایا یاد چلند د کار ځای پالیسی او/یا ارزښتونو تر پښو لاندې کوي؟ که یو څوک د کورنۍ غړي یا نږدې ملګري سره دا ډول چلند وکړي، ایا تاسو مداخله کوئ؟
3. پریکړه وکړئ که تاسو د عمل کولو مسؤلیت لرئ. که تاسو یې ونه کړئ نو څوک به یې وکړې؟
4. دا چې څنګه مرسته کوئ تاسو یې غوره کړئ: **لارښوونه کول، ګډوډول، ژور پلټل، هیات ټاکل/رپوټ ورکول**
5. خپل انتخاب په خوندي توګه پلې کړئ.

# د مداخلې لارې: ښه فکر کول

| هیات تاکل/رپوټ ورکول | ژور پلټل | منحرف/ګډوډول | لارښوونه کول |
|---|---|---|---|
| | | | |
| | | | |
| | | | |

ناسته 1 // موضوع 3

# لومړی سيناريو



میګویل په پلازمینه ښار کې میشته د مدني ټولنې پراختیایی پروژې ټیم یوه نوې کارکونکې ده. یوه ورځ، د ساحوې ویزیت څخه دفتر ته د بیرته راستنیدو وروسته، د ټیم ځینې غړي په دې بحث کوي چې د پروګرام دغه ځوانه ښځینه کار کونکې څومره ښکلې ده، میګویل پدې خبره سخته ناراحته کیږي.

یو همکار، په ځانګړي توګه، جورج، چې د "ښځو ملګرۍ" په نوم پیژندل کیږي، بله ورځ د خپلو ټولو ښځینه ملګرو په اړه لافې ویلې او په دفتر کې په ټولنیزو رسنیو کې د دوی پروفایل عکسونه شریکوي.

# دوهمه سيناريو



لي په دفتر کې د خپل جنسي اړیکو په اړه د خبرو کولو عادت لري،
او هغه د دې په اړه ټوکې کول خوښوي. ډیری کارکونکې فکر کوي
چې هغه مسخراچې او یو ټوکې سړی دی او له دې څخه نه
خوریږي. ځینې خلک بیا د لي له چلند څخه ناراحته احساس کوي، نو
دوی یې له پامه غورځوي.

# دریمه سیناریو



روز یوه 9 کلنه نجلۍ ده چې ډیری وختونه د خپلې ړندې انا تر پاملرنې لاندې پاتې کیږي. یو متوسط عمر لرونکی سړی، مونګ، په یوه ښوونځي کې د فوټبال کلب مشر دی چې یاد کلب د یوې INGO لخوا تاسیس شوی. مونګ اکثرا د روز او د هغې انا سره لیدنه کوي او دوی ته چاکلیټونه او نور ډالۍ راوړي.

یو سیمه ایز مرستندویه کارکوونکی چې سیکمون نومیږي دې ته متوجه کیږي چې ماونګ ډیری وختونه له روز او د هغې انا سره لیدنه کوي او لیدنې یې نامناسب ګڼي.

# ځلورمه سيناريو



ايريکا له څو مياشتو راهيسې په دفتر کې کار کوي. په دې وروستيو کې، هغه د جيمز په نامه خپل د يوه همکار د ځينو کړنو له امله ناراحته شوې ده. جيمز اکثرا وايي چې ښځې "څومره ښايسته" دې او يوه ورځ ايريکا دا مشاهده کوې چې جيمز خپل شخصي تليفون کې ځيني فحش عکسونو ته ګوري.

ايريکا متوجه کيږي چې جيمز اکثرا د کارمندانو په موټر کې کليوالو سيمو ته ځي ترڅو د ځوانو انجونو سره خبرې وکړي. يوه ورځ هغه په سيمه ايز شرابخانې کې جيمز سره پداسې حال کې ليدنه کوې چې ورسره د قانوني سن لاندې يوه کم عمره انجلۍ په څير ښکاري. دوی دواړه نشه ښکاري.

# پنځمه سيناريو



جين يوه سيمه ايز مرستندويه کارکونکې ده. يوه ورځ د خوراکي توکو مرستې ويشلو پرمهال، جين په چک پاينت کې ده ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې کرښه په اسانۍ سره حرکت کوي پداسې حال کې چې د هغې همکار پيټريک توکي ورکوي. پيټريک د هغه ميرمنو سره ټوکې او ټکالې کوي چې هغه ته په ليکه کې راځي، حتی د انجونو ميندو ته وايي چې دوی بايد خپلې لونې له هغه سره واده کړي. هر يو پدې خبرو خاندي او فکر کوي چې دا يوه ټوکه ده، او داسې ښکاري چې ځوانې نجونې ورته توجه خوښوي.

# لنډېز کول

**لومړی موضوع:**

د یوه بې غرضه شخص اغېز.

# ناسته 2

ناسته 2 //

# خوندي ګمارنه او انتخاب

**د ناستې موخه:**

پر شرایطو برابر د کاندیدانو د جلب او جذب لپاره ستراتیژۍ غوره کړئ او د هغو کاندیدانو مخه ونیسئ چې د بشري مرستو او پراختیا په سکتور کې کار کولو لپاره مناسب نه وي، په ځانګړې توګه د زیان منونکو ماشومانو او لویانو سره چې په خطر کې وي.

# د ګمارنې پلان کول ترڅو د جنسي ناوړه ګټه اخېستنه او جنسي تیری مخنیوی وشي

## د زده کړې موخې:

په پوستونو کې د جنسي ناوړه ګټه اخېستنه او جنسي تیری خطرونه وپیژنئ او دا چې څنګه يې کم کړئ.

دا وټاکئ چې په کار کې تنوع څنګه د جنسي ناوړه ګټه اخېستنه او جنسي تیری خطر کمولو کې مرسته کولی شي.

تشریح کړئ چې څنګه د پوستونو لپاره اعلانونه د مناسبو کاندیدانو جذبولو کې مرسته کولی شي.

# د ګمارنې پلان کول ترڅو د جنسي ناوړه ګټه اخېستنه او جنسي تیری مخنیوی وشي



**جویل ډیویس** د ځوانانو جنسي تاوتریخوالی ختمولو په ویب پاڼې په یوه انځور کې.

# فعالیت: په پوستونو کې د جنسي ناوړه ګټه اخېستنه او جنسي تیری د خطرونو پېژندل

1 پدې پوست کې د **جنسي ناوړه ګټه اخېستنه** او **جنسي تیری** خطرونه کوم دي؟

2 تاسو به کوم کارونه یا ژبه بدل کړئ/اضافه کړئ ترڅو د **جنسي ناوړه ګټه اخېستنه** او **جنسي تیری** په مخنیوي کې مرسته وکړي؟

# فعالیت: په کارۍ چاپیریال کې تنوع

تاسو د ښځو، معیوبیت *لرونکو* خلکو *او* نورو *اقلیتونو* لپاره د خنډونو د کمولو لپاره کوم بدلونونه راوستلی شئ؟

# فعالیت: اعلانات او کار ګمارنه

پشمول ددې چې چیرې تاسو اعلان کوئ د کار اعلانونه څنګه کولی شي د جنسي ناوړه ګټه اخېستنه او جنسي تیری په کمولو اغیزه وکړي؟

ناسته 2 // موضوع 1

# اعلان ورکول



د یوه متنوع چاپېریال هڅول.



په شرایطو برابر و ټولو کاندیدانو ته مساوي فرصتونه وړاندې کول.



هغه چلند چې د کارکونکو څخه یې تمه کیږي.

# اعلان ورکول

د جنسې ناوړه ګټه اخېستنه او جنسې تیرئ د پالیسئ څخه سرغړونې نه زغمل.

د خوندي چاپېریال رامینځته کولو مسؤلیت.

داسې یو بیان چې میرمنې او معیوبیت لرونکي خلک وهڅوي ترڅو غوښتنلیک وسپارې.

ناسته 2 // موضوع 1

# د دندې پوسټول

- روغتیایي کلینیکونه
- د ښځو مرکزونه
- د ښوونځي سایټونه
- د تجمع ځایونه
- کلبونه

# د کاندید سره مرکه
# او د هغه غوره کول

**د زده کړې موخې:**

دا تشریح کړئ چې د کاندیدانو عمومي پوهه او د چلند د اصولو په اړه او د جنسي ناوړه ګټه اخیستنه او جنسي تیرئ مخنیوي کې د دوی د پام وړ دندې په اړه پوهه څنګه و ارزول شي.

ناسته **2** // موضوع 2

# ځانګړی

**"له 50 څخه زياتو ميرمنو د کانګو ايبولا بحران په وخت مرستندويه کارکونکي په ناوړه جنسي اعمالو تورن کړي."**

- د سپتمبر 29، 2020



# د خوندي ګمارنې لپاره مرکه

په کار ګمارنې کې اوږدې وقفې.

په لنډ وخت کې ډېرى بستونه (دندې) درلودل.

د ریفرینس (مراجعو) لیست چې سوپروایزر پکې شامل نه وي.

# فعالیت:
# د خونديې ګمارنې لپاره مرکه

ستاسو په ګروپ کې، ستاسو ټاکل شوې د دندې لايحې په کارولو سره، خپل د ډلې نيمايي برخه د هغو احتمالي ځوابونو په اړه فکر وکړئ چې د څلند اصول په اړه ستاسو پوهه معلومه کړي، او پاتې نيم يې د هغو ځوابونو په اړه فکر وکړئ چې اندېښنه مو وښيي.

ناسته 2 // موضوع 2

# د پوښتنو ټولګه: د مرکې په اړه پوښتنې

د هغه دندې لپاره چې تاسو درخواستي لیږلې، ستاسو په باور زموږ د چلند اصول څنګه په تاسو پلې کیږي؟

ناسته 2 // موضوع 2

# د پوښتنو ټولګه: د مرکې په اړه پوښتنې

ایا تاسو کله هم خپل د ښځوانیو ګمارونکو سره د جنسي ناوړه ګټې اخیستنې، ځورونې، یا جنسي تیرې په اړه ښکېل شوي یاست؟

# د پوښتنو ټولګه: د مرکې په اړه پوښتنې

ستاسو په نظر د زیانمنونکې ماشومانو او لویانو سره د چلند کوم حدود د منلو وړ دي؟

# د پوښتنو ټولګه: د مرکې په اړه پوښتنې

ایا تاسو کله هم د داسې یوه حالت سره مخ شوې یاست چې تاسو باید د چلند د اصولو څخه د سرغړونې راپور ورکړئ وې؟

# د پوښتنو ټولګه: د مرکې په اړه پوښتنې

که چیرې تاسو یو همکارووینئ چې زموږ د څلند اصولو څخه سرغړونه کوي نو تاسو به څه وکړئ؟

# د ګمارنې په وخت کافي احتیاط

### د زده کړې موخې

د جنسي ناوړه ګټې اخیستنې او تیری مخنیوي کې د ریفرینسونو (د کارمند پخواني ګمارونکي) او سابقې د څېړنې نقش تشریح کړئ او په بېړني حالتونو کې او د لنډمهاله، عادي او ټولنیز کارمندانو په ګمارلو کې د ریفرینس او کاري سابقې څېړنې لپاره استراتیژۍ زده کړئ.

# د ریفرینس او کارې سابقې اړوند څیړنې

تل د مخکینیو سوپروایزرانو د نومونو غوښتنه وکړئ او که امکان ولرې نو مستقیم ورته زنګ ووهئ.

که تاسو د بریښنالیک له لارې ریفرینس ګورئ، ډاډ ترلاسه کړئ چې د بریښنالیک آدرسونه د یوه با اعتباره او رسمې ادارې اړوند وې ترڅو تاسو یې تصدیق کړئ.

که تاسو د یو غوښتونکي څخه لیکلي ریفرینس ترلاسه کړئ، و هغه کس ته په تلیفون کولو سره یې تایید کړئ.

# فعالیت: د یوه کاندېد ارزونه

په هر یادښت کې د یوې مفکورې سره ، د یادښت په کوچنیو کتابچو (Post-It) کې د جنسي ناوړه ګټې اخیستنې او تیری خطرونو لپاره د کاندیدانو ارزونې لپاره ځومره نظرونه چې تاسو فکر کولی شئ ویې لیکئ. تاسو 5 دقیقې وخت لرئ.

# فعالیت: د کاندېد د ارزونې ادامه

د یادښتونو ورقې د نورو کسانو لخوا د بررسۍ لپاره پر دیوال ولګوئ او ورته مفکورې راټولې کړئ.

# لنډیز کول: پوره احتیاط

**د ورقو ویشل:**

د خوندي *کمارنې، قرارداد کولو او د فعالیت* مدیریت لپاره د چک لیست بیاکتنه.

## ناسته 3

ناسته 3 //

# خونديٍ پروګرامونه او د خطر مديريت

ناسته 3 //

# خونديځ پروګرامونه او د خطر مديريت

تولېز موخه:

د موجوده او نوي بشري مرستو برنامو باندې د جنسي ناوړه ګټې اخېستنې او جنسي تيري څخه مخنيوی د خطر مديريت د دورې څلور برخې پوهېدل، پېژندل، خطر کمول او څارنې پړاوونه پلي کړئ.

**لومړی موضوع:** د خطر په اړه فکر کول

**دوهمه موضوع:** د خطر د مديريت دوره

**دريمه موضوع:** په خطراتو پوهيدل

**څلورمه موضوع:** د خطراتو پيژندل

**پنځمه موضوع:** د خطراتو کمول

# د خطر په اړه فکر کول

د داسې یوې شخصي پروژې په اړه فکر وکړئ چې تاسو پدې وروستیو کې بشپړ کړې وي. د بریالۍ بشپړیدو لپاره د دې شخصي پروژې اړونده خطر یا ګواښ وپیژنئ او هغه ګامونه چې تاسو د دې خطرونو کمولو لپاره اخیستي.

1 په دغه پروژې کې ستاسو موخه څه وه؟

2 ستاسو ودغې موخې ته د رسیدو لپاره ځینې احتمالي خطرونه کوم وو؟

3 هغه کوم شیان دي چې تاسو د خطرونو د مطرح کولو او کمولو لپاره ترسره کړي؟

ناسته 3 //

# د خطر تعریفول او د جنسي ناوړه ګټې اخېستني او جنسي تيرۍ څخه مخنیوی موخې

**خطر دې ته وايي:** "په اهدافو د ناځرګندتیا اغیزه"

**د جنسي ناوړه ګټې اخېستني او جنسي تيرۍ څخه مخنیوی موخې**

1 زموږ د کارمندانو یا رضاکارانو لخوا د جنسي ناوړه ګټې اخیستنې او تیرۍ اړونده سرغړونو مخنیوی.

2 د جنسي ناوړه ګټې اخیستنې او تیرۍ د چلند معیارونو څخه سرغړونې لپاره حساب ورکول (ځواب ویل).

3 د جنسي ناوړه ګټې اخیستنې او تیرۍ د سرغړونو د قربانیانو ملاتړ کول

# د خطر د مدیریت دوره




**لومړی مرحله: پدې پوه شئ** - برنامه څنګه پلي کیږي او هغه ساحې کومې دي چیرې چې په پروژه کې خطر څرګند کیدی شي.

**دوهمه مرحله: پیژندنه** - هغه ځانګړي لارې ونوموئ په کوم کې چې د خطر څخه (د جنسي ناوړه ګټې اخیستنې او تیری هڅې یا پیښې) ممکن زیانونه واقع شي.

**دریمه مرحله: کمول** - د خطرونو کمولو لپاره واقعي (د وخت او سرچینو سره سم) لارې رامینځته کړئ ، په ځانګړي توګه د چلند معیارونو او عملیاتي معیارې کړنلارې له لارې.

**څلورمه مرحله: څارنه کول** - د څارنې پلان جوړ کړئ (یا دا د نورو څارنې فعالیتونو سره یوځای کړئ ترڅو پوه شئ چارې په لاندې توګه وې: (1) بنه تعقیبیږي، او دا چې (2) دغه چارې د جنسي ناوړه ګټې اخیستنې او تیری اړونده حوادثو په کمولو کې اغېزناکه دي.

ناسته 3 //

# د جنسي ناوړه ګټې اخېستنې او جنسي تيرې څخه مخنيوی لپاره د خطر د مدیریت چوکاټ

بهرنۍ موضوع ګانې




بهرنۍ موضوع ګانې

# د خطرونو د ارزونې او مدیریت پلان

| د خطرونو د ارزونې او مدیریت پلان | | | |
|---|---|---|---|
| د پوښتنو سپړنه | | | |
| | 1. پدې پوه شئ چې دا پروژه څنګه پلې کیږي | 2. د جنسي ناوړه ګټې اخیستنې او تیری خطرونه وپېژنئ | 3. د جنسي ناوړه ګټې اخیستنې او تیری خطرونه کم کړئ |
| بهرنې موضوع ګانې | | | |
| خلک | | | |
| پروګرام | | | |

# په خطرونو پوهیدل

| د خطرونو د ارزونې او مدیریت پلان | |
|---|---|
| **پروژه:** (د مثال په توګه، په یوه کلي کې د روغتیایي کلینیک چلول؛ پدې کې مستقیم روغتیایي خدمات؛ په شاوخوا سیمو کې کور په کور سروې؛ د روغتیا په اړه د کارمندانو او ګډون کونکو روزنه شامله ده) | 1 پوه شئ |
| **بهرنۍ موضوع ګانې**<br>- سیمه ایز چلند، قوانین او نور د جنسي تاوتریخوالی، پر ماشومانو جنسي تیری، په شمول د قانوني عمر څخه کښته کسانو سره جنسي عمل.<br>- د قربانیانو لپاره د لاسرسي وړ خدمات؟ | |
| **خلک**<br>- په ټیم کې د کارکونکو او رضاکارانو د جنسیت توازن<br>- ټیمونه څنګه مدیریت کیږي؟ ساحوي ټیمونه څنګه څارل کیږي؟<br>- د مرستو لپاره کوم خلک په پام کې نیول کیږي؟ د ناوړه ګټې اخیستنې لپاره دوی څنګه زیان منونکي دي؟ | |
| **پروګرام**<br>- کارمندان څنګه د پروګرام برخه اخیستونکو سره اړیکه نیسي؟ چیرې؟ په څومره وخت کې؟<br>- کوم توکي/خدمتونه وړاندې کیږي یا ترسره شوي فعالیتونه څه دي؟ څنګه؟<br>- کارکونکي څنګه کنټرول شي، یا ظاهرا کنټرول شي، توکو/خدماتو/فعالیتونو ته څنګه لاسرسی وشي؟<br>- ژبې؟ د کار په وخت کې د اړیکو ټینګولو ډیجیټلي وسیلو کارول؟ | |

# د خطرونو پېژندل

| د خطرونو د ارزونې او مدیریت پلان | |
|---|---|
| **پروژه:** (د مثال په توګه، په یوه کلي کې د روغتیایی کلینیک چلول؛ پدې کې مستقیم روغتیایی خدمات؛ په شاوخوا سیمو کې کور په کور سروې؛ د روغتیا په اړه د کارمندانو او ګډون کونکو روزنه شامله ده) | 2 د جنسي ناوړه ګټې اخیستنې او تیرې خطرونه |
| **بهرنۍ موضوع ګانې**<br>- سیمه ایز چلند، قوانین او نور د جنسي تاوتریخوالی، پر ماشومانو جنسي تیری، په شمول د قانوني عمر څخه کښته کسانو سره جنسي عمل.<br>- د قربانیانو لپاره د لاسرسي وړ خدمات؟ | |
| **خلک**<br>- په ټیم کې د کارکونکو او رضاکارانو د جنسیت توازن<br>- ټیمونه څنګه مدیریت کیږي؟ ساحوي ټیمونه څنګه څارل کیږي؟<br>- د مرستو لپاره کوم خلک په پام کې نیول کیږي؟ د ناوړه ګټې اخیستنې لپاره دوی څنګه زیان منونکي دي؟ | |
| **پروګرام**<br>- کارمندان څنګه د پروګرام برخه اخیستونکو سره اړیکه نیسي؟ چیرې؟ په څومره وخت کې؟<br>- کوم توکي/خدمتونه وړاندې کیږي یا ترسره شوي فعالیتونه څه دي؟ څنګه؟<br>- کارکونکي څنګه کنټرول شي، یا ظاهرا کنټرول شي، توکو/خدماتو/فعالیتونو ته څنګه لاسرسی وشي؟<br>- ژبې؟ د کار په وخت کې د اړیکو ټینګولو ډیجیټلي وسیلو کارول؟ | |

# د خطرونو کمول

| د خطرونو د ارزونې او مدیریت پلان | |
| --- | --- |
| **پروژه:** (د مثال په توګه، په یوه کلي کې د روغتیایی کلینیک چلول؛ پدې کې مستقیم روغتیایی خدمات؛ په شاوخوا سیمو کې کور په کور سروې؛ د روغتیا په اړه د کارمندانو او ګډون کوونکو روزنه شامله ده) | 3 د خطر کمول |
| **بهرنۍ موضوع ګانې**<br>- سیمه ایز چلند، قوانین او نور د جنسي تاوتریخوالی، پر ماشومانو جنسي تیری، په شمول د قانوني عمر څخه کښته کسانو سره جنسي عمل.<br>- د قربانیانو لپاره د لاسرسي وړ خدمات؟ | |
| **خلک**<br>- په ټیم کې د کارکونکو او رضاکارانو د جنسیت توازن<br>- ټیمونه څنګه مدیریت کیږي؟ ساحوي ټیمونه څنګه څارل کیږي؟<br>- د مرستو لپاره کوم خلک په پام کې نیول کیږي؟ د ناوړه ګټې اخیستنې لپاره دوی څنګه زیان منونکي دي؟ | |
| **پروګرام**<br>- کارمندان څنګه د پروګرام برخه اخیستونکو سره اړیکه نیسي؟ چیرې؟ په څومره وخت کې؟<br>- کوم توکي/خدمتونه وړاندې کیږي یا ترسره شوي فعالیتونه څه دي؟ څنګه؟<br>- کارکونکي څنګه کنترول شي، یا ظاهرا کنترول شي، توکو/خدماتو/فعالیتونو ته څنګه لاسرسی وشي؟<br>- ژبې؟ د کار په وخت کې د اړیکو ټینګولو ډیجیټلي وسیلو کارول؟ | |

ناسته 3 //

# مشترکي موضوع ګانې

1 د انفرادي تماس کمول.

2 کارمندان ځواکمن دي او تمه کیږي چې د سرغړونو او شکمنو پیښو راپور ورکړي.

3 د کارکونکو او د پروګرام ګډونوالو ته د هغوی د حقونو او مسوولیتونو په اړه خبر ورکول.

4 د ټولنې غړي د احتمالي ناوړه جنسي ګټه اخیستنې او جنسي تیرې اړونده اندېښنو د راپور ورکولو لپاره خوندي، د لاسرسي وړ او باوري لاره چارې لري.

ناسته 3 //

# د خطرونو څارنه

- د نویو حدودو او پروسو د پلي کولو لپاره کاري پلان
- د نویو تدابیرو په اړه مقطعي د څارنې پلان جوړول
- د خطرونو د کمولو تدابیر د اغېزمنتیا ارزونه له دغو څارنې پلانونو سره یوځای کړئ

- ایا **کارمندان/د ټولنې غړي** پوهېږي چې څنګه د **اندېښنو** راپور ورکړي؟
- ایا داسې ښکارې چې د کارمندانو او ټولنې سره د **جنسي ناوړه ګټې اخیستنې او تیرې په اړه د پوهاوي د زیاتوالي** په پایله کې **رپوټونه هم زیات شوي** دي؟
- ایا په ساحه کې د څارونکو لخوا ناڅاپي لیدنې ترسره کیږي ترڅو دا معلومه شي چې ایا د انفرادي تماس په کمولو کې د مرستې لپاره **معیاري عملیاتي کړنلارې په پام کې نیول کیږي؟**

# د جنسي ناوړه ګټې اخېستنې او جنسي تيرې څخه مخنيوی د خطر مديريت

## دوره: پای




**لومړی مرحله: پدې پوه شئ** - برنامه څنګه پلې کيږي او هغه ساحې کومې دي چيرې چې په پروژه کې خطر څرګند کيدی شي.

**دوهمه مرحله: پيژندنه** - هغه ځانګړي لارې ونوموئ په کوم کې چې د خطر څخه (د جنسي ناوړه ګټې اخيستنې او تيری هڅې يا پيښې) ممکن زيانونه واقع شي.

**دريمه مرحله: کمول** - د خطرونو کمولو لپاره واقعي (د وخت او سرچينو سره سم) لارې رامينځته کړئ ، په ځانګړي توګه د چلند معيارونو او عملياتي معياري کړنلارې له لارې.

**څلورمه مرحله: څارنه کول** - د څارنې پلان جوړ کړئ (يا دا د نورو څارنې فعاليتونو سره يوځای کړئ ترڅو پوه شئ چارې په لاندې توګه وې: (1) بنه تعقيبيږي، او دا چې (2) دغه چارې د جنسي ناوړه ګټې اخيستنې او تيری اړونده حوادثو په کمولو کې اغيزناکه دي.

InterAction

**نوم او تخلص**

دنده، سازمان

YourEmail@NGO.org

InterActionorg@ // **InterAction.org**

**د آیکون جوړونکي: Freepik, Smashicons, Nhor Phai او Iconixar**

# THANK YOU